*بلنه:*

Baacha Khan Education Foundation

# امن د تعليم په ذريعه: د باچا خان ټرسټ مشر په بن کې

ګرانو هېواد والو!
د باچا خان ټرسټ او باچا خان ايجوکېشن فاونډېشن مشر ښاغلی محمد رضا خان په اروپا کې ميشتو افغانانو ته د امن او تعليم په هکله خبرې او هم به د دغو مرکزونو د کار او فعاليتونه په هکله معلومات ورکړي.

*پروګرام*

1. د امن ضرورت او د تعليم له لارې امن ګټل
2. د باچا خان ايجوکېشن فاونډېشن د ښوونځيو په هکله ويډيوی راپورتاژ
3. وړانديزونه، پوښتنې او ځوابونه

تاسو ټولو ته په دغه معلوماتي غونډه کې د زړه له کومې بلنه درکول کېږي.
افغانيک، ډاکټر يحيی وردک

**محمد رضا خان** په ۲۰۰۶ کې په واشنګټن کې د جورج ټون پوهنتون نه په بين المللي حقوقو کې ماستری ترلاسه کړی ده. دی د امريکا د وکيلانو ټولنې او د حقوقپوهانو بين المللي ټولنې غړی، اوسمهال محمد رضا خان د باچا خان ترسټ او د باچا خان ايجوکېشن فاونډېشن مشر (Managing Director) دی.
**باچا خان ټرسټ** (http://www.baachakhantrust.org) يوه خپلواکه او غير انتفاعي ټولنه ده، چې د باچا خان د امن او عدم تشدد روايات خپلوی. هغه د تعليم په وسيله د ټولنيز پرمختګ او سياسي اقتدار لاره غوره کړيده. غفار خان د شلمې پيړۍ په لومړۍ برخه کې د ولس په مرسته د"آزاد سکولونو" په نوم اويا ښوونځي جوړ کړل. دا لوی مقصد د انګليس استعمار په وجه نيمګړی پاتی شو. له نيکمرغه د يوې اوږدې مودې نه وروسته په ۲۰۰۷ م کال په پيښور کې د باچا خان ايجوکېشن فاونډېشن (http://www.bkefoundation.org) په جوړلو سره د نويو ښوونځيو ودانول پيل او د باچا خان د يو لوی آرمان د پوره کيدلو په لاره کې قدم کېښودل شو.

**وخت:** جمعه، د مي ۲۳، 2008/05/23 د مازديګر څلور بجې
**ځای:** د افغانستان معلوماتي مرکز (افغانيک)، د بن ښار




**آدرس**
AFGHANIC/Seminar-Raum
(im Brunn Autoland, III. Etage)
Justus-von-Liebig-Str 24
53121 Bonn, Germany

**معلومات**
Tel 0228 - 409 76 30
Mobil 0174 741 73 06